شاګله بارکزی
2010 /04 / 13

# د یوی افغانی او پښتنی خور ږغ

**ورونو! د خپل هیواد د یوی افغانی او پښتنی خور ږغ واوری!!**
د روان کال د وری د میاشتی د (۱۲) نیټی څخه کورنی او بهرنی رسنی په ډیر زرب د ښاغلی حامد کرزی او د افغانستان د غربی مرسته کوونکو په ځانګړی ډول د امریکی سره پر اړیکو، یا په رښتیا اندیښمن دی، یا فکر کوی چی انشالله دا ځل به می ارمان ګوتی پوره شی. او ځینی هم حیران دی چی خدایه خیرکوه چی دا ځل به څه ناورین پیښ نه شی. د رسنیو خپرونی می په ژوره توګه تعقیب کړی دی.
مور، میرمنی، خویندی او میندی ډیر ملایم او د مهربانی ډک زړونه لرو. باور وکړی چی د هر څومره زورزیاتی تاب مو راوړی دی. د هغه خاوند لا قسم په خدای د امن او ارامی دوعاوی کوو چی یوه ورځ مو د مهربانی ږغ نه دی څنی ارویدلی ولی په یاد ولری چی افغانه ښځه یو څه نشی بخښلای او هم یی د خپل ژوند په بیه نه زغمی، هغه د بیګانه او یا خپل ناروا سترګی، جنسی تیری او د دغه ډول بی فرهنګه انسانانو د جنسی غوښتنو په مقابل کی زغم او حوصله، نو ځکه می زر ځله مرګ خوښ دی، هغه نالایقه افغان چی د اسلام د سپیڅلی دین په نامه یی زمور میندی او خویندی بی عزته کړی، نو ځکه دغه د جهاد په نامه ښامارانو ته نفرین لیږم . غواړم اصلی مطلب د نامتو شاعر ښاغلی عبدالباری جهانی د شعر د یوی جملی په لیکلو پیل کړم:

**پښتنو بیری دوبیږی ږغ می اوری **** ږغ می اوری پښتنو بیری دوبیږی**

د ښاغلی محشور میهن فدا (یا تخت است یا تا بوت) په مقاله کی می توجه دی جملی را جلب کړه:
« جناب حامد کرزی به مثابه یک مجاهد مدرن و بریده از جهادی های افراطی، شاید از نارامی وجدان مدت ها پیش رنج میبرد........»
د پورته مطالبو تر بیان وروسته سری ویلای شی چی د بی باکه غربیانو پر پښه یی .. وخیژ اوه چی د سفارت ساتونکو یی د همجنس بازانو جشن زمور په جګره ځپلی هیواد کی جوړاوه. دا کړنه که د مجبوریت څخه وه او که بل عامل وه، دا میرانه او غیرت بلل کیږی.
د ښاغلی قطب الدین حقیار په مقاله کی ولولی: « کرزی که ازمردم وحتی قوم خود بکلی جدا شده درمحاصره افراد انګشت شمار تیم خود به هذیان ګویی و یاوه سرایی های خطرناک، و ضد ملی و مردمی دست زدند ... »
ښاغلی حقیارصاحب! ستاسو په نظرملی او مردمی کړنه داده چی د هیواد یو زعیم په ټوله معنی د زړه له کومی په معنوی او ظاهری ډول خپله غلامی په اثبات ورسوی. ستاسو تر نوشتی می د یو روسی جنرال لیکنه را په زړه شوه. « د هیواد صدراعظم سلطان علی کشتمند ته یی څوځله ویلی وه چی روسی سربازانو په یوه پیښه کی تیری او جنایت کړی دی، ولی صدراعظم دا د دښمن یو دسیسه بلله، چی په وروسته کی هغه روسی جنرال د مرکزی کمیټی عضویت د لاسه ورکړ. ولی کشتمند د هیواد پرپتمنو ښځو تیری دسیسه بلله؟»
آیا دغه ستاسو د نظره ملی کار وه؟؟؟
د ښاغلی میرویس زاهد په مضمون کی ولولی : « کرزی صایب همیشه د ملکی خلکو د وژلو شکایتونه کول .... او حتی یو ورځ یی په ډاګه وویل: د هلمند ولایت انګریزانو دغه حالت ته ورساوه او وروسته یی د دوی یو دیپلومات د هیواد څخه وشاړه ....»
حقیارصاحب! دا هم یو ضد ملی کړنه وه؟ هر ګزنه. دا هغه میرانه وه چی رښتیا هم ښاغلی عبدالله او د مزار شریف «مردمی؟؟» حکمران ته د ملت پرضد یوعمل ښکاری. ځکه د هلمند، او روزګان، کندهار.. با توره ولس چی وژل کیږی د پورته حکمرانانو په نظر د دښمن لیکی ضعیفه کیږی. فکر ونه کړی چی زه پښتون قوم تر نورو باتور بولم. د هیواد ټول وګړی سره ورونه دی اوهمیشه یی دهیواد په دفاع کی په ګډه ځانونه قربان کړی دی. زما د وینا تیره څوکه هغو ظالمانو ته متوجه ده چی په مختلفو بهانو او نومونو زمور د پیاوړی ولس د پاکو احساساتو څخه ناوړه ګټه اخلی .
ډاکترعبدالله حتماً د امریکی د ځانګړی استازی(ریچارد هولبروک) د غرضه ډکی خبری اوریدلی دی چی پښتانه یی داسی طالبانو ته نژدی وبولل چی په هره کورنی کی خو به یو طالب وی!


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د روسی اوغربی بادارانو تبصری عبدالله او د ده یارانو ته جرأت ورکړی او د کرزی صاحب وینایی بی مسولیته وبلله. ولی په دی د هیواد نالوستی ښځی هم پوهیږی چی ښاغلی عبدالله په زړه کی د خوښی ګوړی ماتوی، ځکه د کرزی صاحب د منځه تلل د نوموړی او دده د منفوری ډلی چانس ور زیاتوی.
ښاغلی عبدالله ! په دی وپوهیږه چی د هغو منفورو ډلو څخه یوه هم ستاسی ډله ده چی د خپلی حکمرانی په وخت کی علاوه پر نورو ناوړه کړنو د هیواد پر پتمنو ښځو په ډیره سپین سترګی او د نه وجدان په دردلو جنسی تیری هغه سرحدته ورساوه چی ددی وحشیانو د ډاره انجونو ځانونه ووژل. او بیا مو د میرویس زاهد د مقالی په استناد په میلیونونو ډالرونه واخیستل ترڅو بیګناه ځوانان د طالب په نامه ووژنی، مګرهغه په جبر د جګړی لیکوته تیل وهل شوی وه، لکه تسی چی د پنجشیر بیګناه خلک په جبرجګړی ته تیل وهل. نه پوهیږم ولی ستاسو د هیواد د مظلومو خلکو په وینو زبیښولو ارمان نه خیژی.
هو! دا به درسته وی چی په هیواد کی اداری فساد او نوری نادودی شته او دا به اوج ته هم رسیدلی وی. تاسو ښه پوهیږی چی هیواد جګړی ویجاړه کړی وه تا سو او ستاسوهغو یارانو چی په افغانستان کی د مسلمانان جوان نهالګی شین کړی وه، هیواد یی داسی ویجاړکړ چه د کافر زړه هم وربانډی خوړیدی ولی تاسو باک هم نه وربانډی کاوه. په دغسی حالت کی کرزی د قدرت واګی ترلاسه کړی.
**آیا ددی ټولو خرابیوعامل کرزی دی؟؟**
**تاسو د ټول کابل واک نه درلودی؟؟**
همدا اوس ستاسو د نازولوله خوا د هیواد په شمال کی د جنسی تیریو کړنی دوام نه لری؟؟
خیربیاهم خوښی کوه اوخپل غوړه مالیوته ادامه ورکړه ولی د هرانسان وجدان ستاسو په څیرنه دی. پریږده چی کرزی په میړانه خپل په دغه وینا مړشی. کرزی هم د ټولومیړنیو افغانانو په څیر یو افغان دی او وینی یی تر نورو سری نه دی.
ښاغلی نادرشاه سدوزی بیا نوری زړی کیسی راپورته کوی، **ښه داده چی پرملی وحدت ټینګار وشی.** باور وکړه چی په اوبو پاک پریوللی انسانان په د دیرش کلنی جګړی په دوران کی ډیر لږ دی که وی همدا کرزی به وی.
ځینی کرزی لیونی او یایی احساساتی بولی. مګر په کندهار کی دری ورځی وروسته خوبه یی سوچ کړی وی.
آیا دا بده خبره ده چی فوځی عملیات دی د سپین ږیرو په مشوره وشی؟؟
او بیا وکرزی ته د طالب نسبت ورکوی. زه نه پوهیږم چی ولی دا حافظی دومره ضعیفه دی. آیا د همدغه کرزی پلار اروابښاد عبدالاحد کرزی دغه طالبانو ونه وژی؟ ولی بیاهم پر نوموړی په بی انصافی د طالب ټاپه وهل کیږی؟ ځکه د هالبروک په نظر د پښتون قوم څخه دی؟
د هلمند دیوی ښځی څخه می وپوښتله چی خوری ژوند مو څنګه دی؟ میره خو بدچلند نه درسره کوی؟ لوی اسویلی وایستی او داسی یی وویل: خوری د میره ظلم جار شم، تر اوسنی حالت خو لاهغه ظلم ښه وه. اوس خو د بمباریو څخه په لڅ سر او لڅو پښوځغلو..... دا بیان د انسان وجدان ته تکان ورکوی.
تیره ورځ د ایټالویانو په جوړ شوی روغتون کی د ځان مرګی واسکټونه او نورمهمات، د لښکرګاه په ښارکی ونیول شوه، چی د رپوټونو له مخی یی د مخالیفینو سره اړیکی درلودی او د هلمند د والی د وژلوقصد یی درلودی. په هیواد کی دی ته ورته ناورینونه جریان لری ایا د هیواد رئیس جمهور ته لازمه نه ده چی یو څه افغانی میړانه ښکاره کړی؟
ولی دا باید ومنو چی ښاغلی کرزی د کلونو په جریان کی مرسته کوونکی هیوادونه متوجه کړی دی چی خپل کړنی د هیواد د اساسی قانون او افغانی رواجونو مطابق عیارکړی. یو امریکایی لیکوال ریچارد بروسن د امریکی کړنی په خپل وروستیو دو مقالو کی په ډیره شدیده ژبه انتقاد کړی دی مګر یو افغان مشر ددی بیری څخه چی ګویا بهرنیان به مرسته ونه کړی باید خوله یی چوپه وی او انسانی وجدان یی تکان ونه خوری.
د خدای لپاره دهیواد میرنی ښځی داسی فریاد کوی چی د هیواد ناموس څخه په میرانه دفاع وکړی.
د بهرنیو هیوادونو مرسته ترهغه وخته ګټوره ده چی لږ تر لږه د افغانستان د خلکو ناموس ته درناوی وشی. مرګ او لوږه ډیره ښه ده که بهرنی مرستی زموږ د هیواد د ناموس په بیه وی.

داوی ستاسی د یو خور څرګندونی چی دهیواد په ابادی او دفاع کی ستاسو خویندی د ملالی په ډول ځانونه قربانی ته تیارکړی دی.
پریږدی هغه دوه مخی خلک چی د هیواد د خلکو د شملی د ټیټولو او د اتلو ښځو د پوړنی په لیری کولوځان ته د بهرنیانو څخه د مقامونو غوښتنه کوی. په درناوی.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنی د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ